دامیرِاهلِ سُنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د کتاب "د نیکئ دعوت" یو قِسط

# د ګناهونو
# پینځه دُنیاوي
# نقصانونه

پښتو




شیخِ طریقت، اَمیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اِسلامی، حضرت علّامه مولانا اَبو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دا مضمون د کتاب "نيکی کی دعوت" صفحه 450 تا 467 نه اخستے شوے دے

# د ګناهونو پينځه دُنياوي نقصانونه

دُعائے عطّار: یا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله "د ګناهونو پينځه دُنياوي نقصانونه" اولولي يا واوري، هغه ته هميشه د ښو کارونو کولو او د بدو کارونو نه د بچ کيدلو توفيق ورکړې او د قيامت په ورځ د خپل آخري نبي **محمدِ** عربي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت ورنصيب کړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

حضرت سيّدُنا ابو**الْمُواهِب** شاذِلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته په خوب کښې د خپل دِيدارِ مبارك شرف را عطا کړو او اوئې فرمائيل چې: "ته به د قيامت په ورځ زما د يو لاك اُمّتيانو شفاعَت کوے." ما عرض اوکړو: اے زما آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په ما باندې دومره اِنعام او اِکرام څنګه اوشو؟ اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: ځکه چې ته په ما باندې د **درود هَدِيّه** [يعنې تُحفه] پيش کوے. (الطبقاتُ الکُبرٰی لِلشَّعرانی، الجزء الثانی ص 101)

پڑھتے رہو دُرود و سلام بھائیو! مُدام — فضلِ خدا سے دونوں جہاں کے بنیں گے کام

لوَلئ ډير درود و سلام اے زما وروڼو! مُدام — کارونه به مو سم شي د دواړو جهانو تمام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دُرُود د حِکايت په حقله د "شَفاعَت" په باره کښې مَدَني ګلونه

## عُلمائے کِرام به شَفَاعت کوي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! سُبْحٰنَ الله! د دُرُود پاك لوستلو هم څه ښکلې بَرَکتونه دي! د دې **حکايتِ دُرُود** نه دا هم معلومه شوه چې په ورځ د قيامَت به **اَهلُ الله** (يعنې الله والا) د ګنهګارانو

شَفَاعَت کوي. ياد ساتئ! مُطلَقاً د شَفاعَت اِنڪار د حڪمِ قرآني اِنڪار او ڪُفر دے. د موقعې په مُناسَبَت سره د شفاعَت په باره ڪښې د نيکئ د دعوت يو خو مَدَني ګلونه ستاسو په خدمَت کښې وړاندې کيږي، قبول ئې کړئ او د خپل زړه په مدني ګلدسته کښې ئې اُولګوئ. اِنْ شَآءَاللّٰه د ايمان د تازه کيدو سره سره به مو ډيرې وسوسے هم ختمې شي. د شفاعَت معنٰی ده: ”د ګناهونو د مُعافئ سفارِش.“ د ټولو نه مخکښې د علمائے کرامو د شفاعت کولو مُتَعَلِّق يو ايمان تازه کوونڪے روايت واورئ، چنانچه د حضرت سَيِّدُنا جابِر بن عَبدُ الله رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د خَاتَمُ الْمُرسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ارشادِ دِلنَشين دے: (په ميدانِ قيامَت کښې به) عالِم او عابِد راوستے شي، عابِد (عبادَت کوونڪي) ته به اُووئيل شي: جَنَّت ته داخِل شه او عالِم ته به اُووئيل شي: ته في الحال اُودريږه چې د خلقو شَفاعَت اوکړې، په دې بدله کښې چې تا دوئي ته ادب زده کړے وو. (شُعَبُ الايمان ج2 ص268 حديث 1717)

مجھ کو اے عطّار سُنّی عالموں سے پیار ہے

اِن شآءَ اللہ دو جہاں میں میرا بیڑا پار ہے (وسائلِ بخشش ص ۶۴۲)

مِينه ده عطّاره زما په زړه کښې، د سُنِّي عالِـمانو اِنْ شَآءَاللّٰه زما به پوريوځي، بيړئ په دواړو جهانو

## په کومو آيتونو کښې چې د شَفاعت انڪار دے د هغې وضاحت

د قرآن کريم په کومو آيتونو کښې چې د شَفاعَت نفي ده (يعني اِنڪار دے) د هغې نه مُراد دا دے چې د الله پاک په بارګاه کښې خوك جبراً [يعني په زور] شَفاعَت نه شي کولے يا [دا مطلب دے چې] د غيرمُسلمو شَفاعَت نشته يا [دا مطلب دے چې] بُت شَفِيع (يعني شَفاعَت کوونڪے) نه دے. مثلاً:

په دريمه سيپاره سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت نمبر 254 کښې دي:

يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ (پ3، البقرة: 254)

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: هغه ورځ چې په هغې کښې نه خرڅول اخستل شته او نه د کافرو د پاره دوستي او نه شَفاعَت.

سيپاره 29 سُوْرَةُالْمُدَّثِّر آيت نمبر 48 کښې ارشاد دے:

فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿۴۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: نو د هغوئي د پاره به د سفارِش کوونکو سفارِش کار نه ورکوي.

(پ29، المدثر: 48)

## د قرآن نه د شَفاعَت ثبوت

کوم ځائے چې په **قُرآن شريف** کښې د شَفاعَت ثبوت دے هلته د **اللّٰه** پاک د ګرانو بندګانو د مومنانو د پاره "**شَفاعَت بِالاِذن**" مُراد دے يعني د **اللّٰه** پاک نيک او خوښ بندګان به د خپل محبوبِيَّت او وجاهَت او مرتبے په وجه د **اللّٰه** پاک په اجازت د مومنانو شَفاعت کوي. مثلاً په دريمه سيپاره سُوْرَةُالْبَقَرَه آيت نمبر 255 کښې دي:

مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: او څوك دے چې **سِفارِش** اوکړي د هغه په بارګاه کښې بغير د هغه د حکم نه.

(پ3، البقرة: 255)

په شپاړسمه سيپاره سُوْرَةُمَرْيَم آيت نمبر87 کښې دي:

لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: خلق د شَفاعَت مالکان نه دي سِوا د هغوئي نه د چا چې رَحمٰن سره وعده شوې ده.

نیکیاں بِالکل نہیں ہیں نامۂ اعمال میں
کیجئے عطّارؔ کی آ کر شَفاعت یارسول

(وسائل بخشش ص 142)

بالکل نه لري نيکۍ اعمال نامۀ کښې
راشۍ اوکړۍ شفاعت د عطّار يا رسول

## څوك څوك به شَفاعَت کوي؟

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي د 1250 صفحو کتاب "بہارِشریعت" جلد اوّل صفحه 139 نه 141 کښې د قيامت په منظر کشۍ کښې د **شَفَاعت مُتَعَلِّق** په تفصيلي مضمون کښې دا هم دي: بيا به ټول انبِياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د خپل اُمّت **شَفاعَت** فرمائي،

اولیائے کرام، شهیدان، عالِمَان، حافِظان، حاجیان بلکه هر هغه کس چې هغه ته څه دیني مَنصَب ورکړے شوے وي هغوئي به د خپلو مُتَعَلِّقِینُو [تعلق لرونکو] شَفاعَت کوي. نابالغه ماشومان چې وفات شوي دي. (هغوئي به) د خپل مور او پلار شَفاعَت کوي، تر دې چې د عالِمَانو په خدمت کښې به څه خلق عرض اوکړي: مونږه ستاسو د اودَاسه د پاره په فلانکي وخت کښې اوبه راوړې وې، څوك به وائي چې ما تاسو ته د استِنجا [د استعمال] د پاره لُوټه درکړې وه، عالِمَان به د هغوئي هم شَفاعَت کوي.

حرزِ جاں ذکرِ شفاعت کیجئے　　نار سے بچنے کی صورت کیجئے (حدائق بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا: په دې شعر کښې اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: اے عاشقانِ رسول! د شَفاعتِ مُصطفٰی صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ښه ډير ډير ذِکر کوئ يعنې دا د خپل ځان د پاره د پناه د ځائے په مِثل جوړ کړئ چې "ذِکر د شفاعت" مو د آخِرت د خير او د عذابِ جَهَنَّم نه د خلاصي وَسِيله جوړ شي.

تجھ سا سیاہ کار کون اُن سا شفیع ہے کہاں!　　پھر وہ تُجھی کو بھول جائیں دل یہ ترا گمان ہے

(حدائق بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا: په دې شعر کښې اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ علیہ خپل ځان ته د عاجزئ په طور فرمائي: ته که د ټولو نه لوئے ګنهګار ئې خو ته چې د کوم خوږ خوږ مُصطفٰی صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم غلام ئې د هغوئي نه بل غټ شَفاعَت کوونکے هم نشته. نو څکه اے زما غمګينه زړه! تَسَلِّي ساته! په ورځ د حَشَر به شَفِيعِ مَحشَر صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم تا بالکل نه هيروي.

یا رسولَ اللہ! مجرم حاضرِ دربار ہے　　نیکیاں پلّے نہیں سر پر گُنہ کا بار ہے
تم شہِ ابرار یہ سب سے بڑا عِصیاں شِعار　　یوں شفاعت کا یہی سب سے بڑا حقدار ہے
(وسائلِ بخشش ص ۲۲۲)

یارسولَ الله! مُجرِم حاضِر دے ستاسو په دربار　　نيکئ نه لري، لري د ګناهونو لوئے انبار
ته شاهِ اَبرار ئې او دا دے د ټولو غټ ګنهګار　　څکه دا د شفاعت دے د هر چا نه زيات حقدار

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د شَفاعَت اته قِسمونه

**مُحَقِّق عَلَى الِاطلاق، خَاتِمُ المُحَدِّثِين،**حضرتِ عَلَّامه **شَيخ عَبدُالحَق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د شَفاعَت د قِسمونو په بيان کښې فرمائي: **(1)** دَ **شفاعَت** اولنے قِسم شَفاعَتِ عُظمٰى دے چې ټولو مخلوقاتو ته به د دې فائِده رسي او دا زمونږ د **مُحتَرَم نَبِـى، مَكِّي مَدَني مُصطفٰى** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره خاص دے يعني [په نورو] انبياءِ کرام عَلَيهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام کښې به يو نبي هم په دې باندې د جُرأت او د وړاندې والي مجال نه لري او دا **شَفاعَت** به خلقو ته د آرام رَسَوَلو د پاره ، د حشر په ميدان کښې زيات وخت د حِصاريدو نه د خلاصي ورکولو د پاره، د **الله** پاک په فيصله او حساب کښې د تادئ [د عرض] کولو او د قيامَت د ورځې د سختئ او پريشانئ نه د وِيستلو د پاره به وي. **(2)** دويم قِسم **شَفاعَت** به د يو قوم بے حسابه جَنَّت ته د داخليدو د پاره وي او دا **شَفاعَت** هم زمونږ د **نَبِـيّ پاك** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره ثابِت دے او د بعضو عُلماءِ کرامو په نِزد دا شَفاعَت صرف د **حضورِ انور** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره خاص دے. **(3)** دريم قِسم **شَفاعَت** به د هغه خلقو په باره کښې وي چې د هغوئي نيکئ او بَدئ برابرې وي او د **شَفاعَت** په مدد به جَنَّت ته داخليږي. **(4)** څلورم قِسم شَفاعَت به د هُغه خلقو د پاره وي څوك چې د دوزَخ حقدار ګرځيدلي وي نو حُضُور پُرنُور صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ئې **شَفاعَت** اُوفرمائي او هغوئي به جَنَّت ته راولي. **(5)** پينځم قِسم **شَفاعَت** به د مرتبے د اوچت والي او د بُزُرګئ د زيات والي د پاره وي. **(6)** شپږم قِسم **شَفاعَت** به د هغه ګنهګارانو په باره کښې وي کوم چې جَهَنَّم ته رسيدلي وي او د **شَفاعَت** په وجه به [د جَهَنَّم نه] را اُوځي او داسې قِسم **شَفاعَت** به نور انبياءِ کرام عَلَيهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام فرښتے، عالِمَان او شهيدان هم کوي. **(7)** ووم قسم **شَفاعَت** به د جَنَّت بيرته کولو د پاره وي. **(8)** اتم قِسم **شَفاعَت** به خاص د مدينے مُنَوَّرے والؤ او **دَ مدينے د تاجدار** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضۀ انور د زيارت کوونکو د پاره په خصوصي طريقه وي. (اَشِعَّةُاللَّمعات ج4 ص404 مُلَخَّصاً)

حشر میں ہم بھی سیر دیکھیں گے　　منکر آج ان سے التجانہ کرے (حدائق بخشش شريف)

**شرحِ كلامِ رَضا:** **اعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په دې شعر کښې فرمائي: کوم خلق چې نن په دُنيا کښې د **الله** پاك ګران بندګان "بے اختياره" ګڼي، په ورځ د مَحشَر به مونږه هم د هغوئي ښه تماشه کوو چې څنګه د بے وسئ او تکليف په حالاتو کښې به د انبياءِ کرام عَلَيهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په پاکو دربارونو کښې د شَفاعَت د سوال کولو د پاره خوار و زار ګرځي! خو ناکامه به شي. څکه خو داسې وئيل شي:

آج لے ان کی پناہ آج مدد مانگ ان سے  پھر نہ مانیں گے قِیامت میں اگر مان گیا
(حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا: یعني نن د اختیاراتِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم قائِل شه او د هغوئي د کرَم د لَمَنې مبارکې پناه واخله او د هغوئي نه مدد اُوغواړه. که ته دا وائې چې سَرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاک په عطا سره هم مدد نه شي کولے نو یاد ساته! چې صبا په ورځ د قیامت چې به کله د **الله** پاک د **خوږ نَبِي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د **محبوبیت** شان ظاهِر شي او بیا ته اِختیارات اُومنې او د شَفاعَت په صورَت کښې د مدد سوال کولو د پاره منډې وهل شروع کړې نو هغه وخت به ئې **سرکارِ نامدار** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اُونه مَنِـي ځکه چې دُنیا "**دارُ العَمل**" (یعني د عمل ځائے) وو که هلته دې "**مَنَلے وے**" نو کار به دې شوے وو اوس "**مَنَل**" په کار نه راځي ځکه چې آخِرت  **دارُ العَمَل** نه دے "**دارُ الجَزاء**" (یعني په دُنیا کښې چې دې کوم عمل کړے وو د هغې د بدلے ورکولو ځائے) دے.

## د شَفاعت په اُمّید ګناه کول څنګه دي؟

د **شَفاعَت** په اُمّید ګناه کوونکے داسې دے لکه څوک چې ماهر ډاکټر ته د رسیدو په اُمّید زَهر اُوخوري یا د هډوکو ماهِر ډاکټر ته د رسیدو په اُمّید د رَوَان ګاډي **مخې** ته خملي او د خپل بدن ټول هډوکـي مات کړي او یقیناً څوک هم داسې نه شي کولے. لِهٰذا هر وخت د ګناهونو نه ځان ساتل ضروري دي. د **شَفاعَت** په اُمّید د **الله** پاک او **رسول** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نافرماني کولو باندې ځان د جَهَنَّم عذاب ته **مخامخ** کول ډیر زیات خطرناك دي. د **الله** پاک د **پټ تدبیر** نه هر وَخت ویریدل پکار دي که د ګناهونو د سپیره والي په وجه د چا **اِیمان** برباد شو نو **شَفاعَت** خو ئې په ځائے پاتې شو! قَسم په خدائے! د همیشه همیشه د پاره به د دوزخ د وور د لـمبو او قِسما قِسم عذابونو سره **مخامخ** وي. وَالعِيَاذُ بِالله (د **الله** پاک پناه) خو د ځان ساتلو د ډیر کوشش او د نه غوښتلو باوجود هم که بعضې وخت انسان په ګناه کښې ونخښلي نو هغه له پکار دي چې توبه او اِستغفار هم کوي او د **خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د **شَفاعَت** سوال هم کوي.

اے شافعِ اُمَم شہِ ذی جاہ لے خبر  لِلّٰہ لے خبر مری لِلّٰہ لے خبر
مجرم کو بارگاہِ عدالت میں لائے ہیں  تکتا ہے بیکسی میں تری راہ لے خبر
اہلِ عمل کو اُن کے عمل کام آئیں گے
میرا ہے کون تیرے سوا آہ! لے خبر (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: اے د ټولو اُمَّتونو شَفاعَت کوونکيه عِزَّت منده شَهَنشاه صلّى الله عليه واله وسلّم! د خدائے د پاره! زما د ګنهګار خبر واخله! اے زما خوږه آقا صلّى الله عليه واله وسلّم! مُجرِم عدالت ته پيش کړے شوے دے، ګنهګار غلام د ډيرې زياتې بے وسئ په حالت کښې د **شَفاعَت** اُمِّيد لرونکے ستاسو صلّى الله عليه واله وسلّم د تشريف راوړو په انتِظار کښې دے. **يارسولَ الله** صلّى الله عليه واله وسلّم! بيشکه نيکو بندګانو ته به دَ هغوئي نيکئ په کار راځي، آه! د نيکو نه تشه لمَن او د سر نه د ښپو پورې په ګناهونو کښې ککړ ستاسو د غُلام ستاسو صلّى الله عليه واله وسلّم نه سِوا څوك دي چې **شَفاعَت** ئې اوکړي او د وور د عذاب نه ئې بچ کړي!

تسلّی رکھ تسلّی رکھ نہ گھبرا حشر سے عطّارؔ

ترا حامی وہاں پر آمِنہ کا لاڈلا ہو گا

(وسائل بخشش ص 188)

تَسلي ساته تَسلي ساته مه ويريږه د حشر نه عطّاره

هــلــته به کړي ســتا ملګرتيا د آمِــنــه دِلبر

صَــلُّــوا عَــلَی الْـحَــبِـيْــب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د کشتۍ مسافِر

د **حضرت** سَيِّدُنا **نُعمَان بِن بَشير** رضی الله عنه نه روايت دے چې د **ټولو نبيانو سردار** صلّى الله عليه واله وسلّم فرمائي: د **الله** پاک په حَدونو کښې سستي کوونکي او په هغې کښې د اخته [کس] مثال د هغه خلقو په شان دے چا چې په کشتۍ کښې قُرعه اندازي اوکړه، نو د بعضو په حصّه کښې لاندينۍ حصّه راغله او د بعضو په حصّه کښې بَرَنۍ. پس لا نديني کسانو ته به د اوبو د پاره د بره کسانو خوا ته تلل پيښيدل، نو هغوئي دا تڪليف اُوګڼلو او يو تبرګے ئې راواخستو او د کشتۍ په لاندينۍ حصّه کښې يو کس سُورے کول شروع کړو، نو بَرَني [يعني د پاسَنۍ حصّے والا] کسان د هغه خوا ته راغلل او اوئې وئيل: دا په تا څه اوشو؟ هغه وئيلي چې تاسو ته به زما په وجه تڪليف کيدو او د اوبو نه بغير ګزاره نه کيږي. اوس که هغوئي د هغه لاس ونيولو نو هغه ئې بچ کړو او ځپله به هم بچ شي او که هغه ئې پريښودو نو هغه به هلاك کړي او خپل ځانونه به هم هلاك کړي. (صحيح بُخاري ج2 ص208 حديث 2686)

## د ګناهونو سپيره والے نورو ته هم رسي

**د دې** حديثِ پاك نه لاندې په مِراٰةُالْمناجِيْح كښې دي: په دې حديث شريف كښې د يو مِثال په ذريعه د بَدئ نه د منع كولو او د نيكئ د حكم وركولو اَهَمِّيّت واضح كړے شوے دے او دا خبره ښودلې شوې ده چې كه دا وګڼل شي چې ګناه كوونكي ته به د خپلې ګناه نقصان رسيږي زمونږ پكښې څه نقصان دے! او په دې سوچ د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر (يعني د نيكئ د دعوت وركولو او د بَدئ نه د منع كولو) فرض پريښودلے شي نو دا سوچ غلط دے، ځكه چې د هغه د ګناه اثر په ټوله مُعاشره پريوځي او څنګه چې په كِشتئ كښې سورے كوونكے يواځې نه ډوبيږي بلكه په كشتئ كښې سواره ټول كسان د ځان سره ډوبوي، هم دغه رنګ د ګناه كوونكو يو څو كسانو دا جُرم په ټوله مُعاشره كښې د ناسور په شان خوريږي.(مِراٰةُالْمناجِيْح ج 6 ص 504)

## بس صرف خپل غم كوه!

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! داسې نه ده پكار چې بس صرف د خپل ځان غم كوه! بلكه د خپل ځان د اصلاح د كوشش سره سره د نورو خلقو د اصلاح طرف ته هم توجه كول پكار دي، ځكه چې ډير ګناهونه داسې دي چې د هغې نقصان نورو ته هم رسي مثلًا كه څوك د غلا ګناه اوكړي نو د هغه كس به هم نقصان اوشي د چا نه چې غلا شوې ده، بالكل هم دغه حال د ډاكه كولو، په امانت كښې د خِيانت كولو، د كنزلو كولو، د تُهمَت لګولو، د غِيبَت كولو، د چُغلئ كولو، د چا د عيب ښكاره كولو، په ناحقه د چا د مال خوړلو، د وِينې توئيَولو [يعني د چا د وژلو]، چا ته بے د شرعي اِجازَته د تكليف رَسَولو، د قرض خوړلو، د چا څه څيز د هغه د خفه كيدو باوجود بغير د اِجازته د استعمالَولو، د مور او پلار د خفه كولو او د بدنظرئ [بد نګاهئ] وغيره كولو دے. اوس كه هر يو ته د دې ګناهونو كولو ښكاره آزادي وركړے شي نو بيا خو به نه د چا مال سلامت پاتې شي او نه د چا عِزَّت! بلكه بيا خو به زمونږه مُعاشره د ”د سړے خوړو ځناورو ځنګل“ جوړ شي. بعضې ګناهونه داسې هم دي چې د هغې په كولو د انسان خپل عِزَّت ته هم نقصان رسي مَثَلاً كوم كس چې د چُغل خور يا زاني يا شرابي په طور مشهور شي نو په دې هر يو كس پوهيږي چې په مُعاشره كښې د هغه څه مُقام وي؟ او بعضې ګناهونه داسې دي چې د انسان مال ته نقصان رَسَوي مَثَلاً د جَوارئ په خوند كښې اخته كيدل، په سُود قرض اخستل، د

کار کولو په ځائے فِلمونه او ډرامے کتلو کښې مشغوليدل، په ذِکر شوي کارونو کښې اخته کسان چې مالي طور خنګه ورځ په ورځ مخ په ښکته ترقي کوي دا د يو عقلمند نه هم پټه نه ده. د دې ټولو دُنياوي نقصانونو سره سره داسې کس د آخِرت د نقصان سره هم مخامخ دے، چې هغه د جَهَنَّم د خوفناك عذاب په صورت کښې پيښيدے شي. وَالعِيَاذُبِاللهِ تعالٰی

## د ګناهونو پينځه دُنياوي نُقصانونه

**د ګناهونو** د دُنياوي نقصانونو په باره کښې د دَعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي د 148 صفحو كتاب "*نیکیوں کی جزائیں اور گناہوں کی سزائیں*" صفحه 51 کښې دي: د حُضُور نَبِيِّ پاك صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم فرمانِ عِبرَت نشان دے: **اے خلقو!** د پينځَو خبرو نه د ځان ساتلو د پاره د پينځَو خبرو نه ځان وساتئ: **(1)** کوم قوم چې کم تول کوي **الله** پاک هغوئي په ګرانئ او د ميوو په کمئ کښې اخته کوي. **(2)** کوم قوم چې بد عهدي (يعني وعده خلافي) کوي **الله** پاک د هغوئي دُښمنان په هغوئي مُسَلَّط کوي. **(3)** کوم قوم چې **زکوٰة** نه ادا کوي **الله** پاک په هغوئي د باران اوبه بندي کړي او که څناور نه وے نو هغوئي ته به د اوبو يو څاڅکے هم نه وې ورکړے شوے. **(4)** په کوم قوم کښې چې فَحَّاشي او بے حيائي خوره شي **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی هغوئي د طاعون[1] په مَرَض کښې اخته کوي. او **(5)** کوم قوم چې د قرآنِ پاك نه بغير فيصله کوي **الله** پاک په هغوئي باندې د زياتي (يعني د غَلطو فيصلو) کولو مزه څَکـې او هغوئي د يو بل په ويره کښې اخته کوي. (قُرَّةُ الْعُيُون ص392)

## دُعا به نه قبليږي

**افسوس!** په کروړونو افسوس! نن صبا په مُسلمانانو کښې د نيکو کولو فِکر ډير زيات کم شوے دے بس هر طرف ته د ګناهونو دَوَر دے، **د نيکئ د دعوت** طرف ته هم څه خاص رَغبَت پاتې نه دے، راشئ! يو **عِبرت ناك رِوايت** واورئ او خپل ځان د عذابِ اِلٰهي نه اُووَيَروئ چنانچه د **سرکارِ مدينه** صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم فرمان دے: قَسم په هُغه [ذات] د چا په لاس کښې چې زما ساه

[1] (طاعون ته په انګريزئ کښې پليګ (PLAGUE) وائي. دا د مږو د سپږو د چيچلو په وجه لګي، دا هلاك کوونکے مرض دے، په دې مرض کښې په سِينه، تَرخونو يا د شرم ګاه خوا و شا غوټې راخيژي او تيزه تبه ورسره راځي)

ده، يا خو به تاسو د ښې خبرې حڪم وركوئ او د بَدې خبرې نه به منع كوئ يا به **الله** پاک په تاسو زر خپل عذاب راليږي بيا به دُعا كوئ او ستاسو دُعا به نه قبليږي.
(ترمِذی ج4 ص69 حدیث 2176)

د دې حديثِ پاك لاندې په مِراٰةُالْمناجِيح كښې دي: د اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَنَهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر (يعني د نيكۍ د حُڪم وركولو او د بَدۍ نه د منع كولو) د ذِمَّه وارۍ نه ډډه كول خومره لوئے جُرم دے په دې حديث كښې په ډير وضاحت سره د دې بيان شوے دے. رَسُولِ اَكرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يا خو به تاسو دا فرض ادا كوئ يا به د **الله** پاک په عذاب كښې اخته كيږئ او د هغې نه پس كه تاسو دُعا هم غواړئ نو نه به قبليږي، دا د ډير زيات سخت قِسم وعيد دے (يعني د سزا وركولو خبر دے) يعني تر څو پورې چې تاسو خپله كوتاهي لرې نه كړئ او د **الله** پاک نه مُعافي اُو نه غواړئ نو ستاسو يوه دُعا به هم نه قبليږي. (مِراٰةُالْمناجِيح ج6 ص505)

دے دُھن مجھ کو نیکی کی دعوت کی مولیٰ | مچادوں میں دھوم اُن کی سنّت کی مولیٰ

راكړې ماته شوق د نيكۍ د دعوت مولٰـى | چې عام كړم زه د هغوئي سُنَّت مولٰـى

صَـلُّـوۡا عَـلَـى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## زه د ګناهونو په تِيارو كښې ورك ووم

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! د نيك جوړيدو او د ګناهونو نه د بچ كيدو او د اِيمان د حفاظت د پاره په نن زمانه كښې د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول د يو **نِعمَتِ غيرِ مُتَرَقَّبه** (يعني هغه دولت چې د هغې د حاصيليدو ګمان نه وي د هغې) نه ڪم نه دے، د نن صبا د ګناهونو نه ډك ماحول كښې لوئے شوي غټ غټ مُجرِمان دِيني ماحول ته راغلل او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه په سُنتو باندې عمل كوونڪي جوړ شول. راځئ چې! په دې باره كښې يو "مَدَني سپرلے" واورو، چنانچه د **ګجرات** (پنجاب، پاكستان) د اوسيدونڪي يو اسلامي وررور د بيان خلاصه ستاسو په خدمت كښې وړاندې كووم. د عاشقانِ رسُول ديني تحريک "دعوتِ اسلامي" د دِيني ماحول سره د تړون نه مخكښې زه د ګناهونو په تِيارو كښې ورك ووم. د غفلت تِيارو زه د دِين نه عملي طور دومره لرې كړے ووم چې ما د لـمانځه، روژے هيڅ پرواه نه لرله. يوه ورځ د معمول مطابِق زما قاري صاحِب زمونږ كور ته ما ته د قراٰنِ پاك وئيلو د پاره راغلو نو هغه وخت زه په ټي وي باندې ډرامه كتلو كښې مصروف ووم، ما اُووئيل: "قاري صاحِب! تاسو كښينئ زه ډرامه ګورم، بس اوس

راځم لرِه شان پاتې ده.'' قاري صاحِب هم د کمال نه ډکه حوصله لره، د رټلو قهريدلو په ځائے ئې په ډير شفقت او مهربانئ په ما اِنفِرادي کوشش اوکړو، ما ته ئې د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوې رساله ''ٹی وی کی تباہ کاریاں'' واوروله. رساله چې مې واوريده نو زه ډير سخت پښيمانه او شرمِنده شوم او د الله پاک د ويرې نه په لړزان شوم! د قاري صاحِب د نصيحت مطابِق چې ما د خپل تير شوي ژوند حساب شروع کړو نو زه سخت خفه شوم چې آه! ما د ژوند دومره لويه حصَّه په فضولياتو او بے فائِدے کارونو کښې تيره کړه او ما ته د دې څه احساس هم نه دے شوے! اَلْحَمْدُلِلّٰه ما په رښتيني توبه اُوويسته او پخه اِراده مې اوکړه چې د بيا د پاره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم د ګناهونو نه ځان ساتم، د لـمانځه د پابندئ سره سره به په سُنَّتو باندې د عمل کولو سره د ژوند تيرولو کوشش کووم او د الله پاک او د رَسُول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانئ، دروغو، غِيبَت، چُغلئ او وعده خلافئ وغيره وغيره نه به ځان ساتَم. اَلْحَمْدُلِلّٰه د دعوتِ اسلامي خوشبودار دِيني ماحول زما د ژوند حال بدل کړو او زما په شان وران کاري انسان هم د خپلې اِصلاح کولو د پاره ملا وتړله، الله پاک دې مونږ ته په دِيني ماحول کښې اِستِقامَت راکړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تُو نرمی کو اپنانا جھگڑے مٹانا
رہے گا سدا خوشنما دِینی ماحول
تُو غصّے جھڑکنے سے بچنا وگرنہ
یہ بدنام ہو گا ترا دِینی ماحول

(وسائلِ بخشش ص ۶۰۴)

ته نرمي کړه اختيار، مه کوه جَګړه
وي به سَدا خوشنُما دِيني ماحول
ته د غصې او رټلو نه بچ اوسه
ګني بدنام به شي دا دِيني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اِنفِرادي کوشش[2] کول سُنَّت دے

[2] يعني په يو يو کس جُدا جُدا کوشش کول

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په دې مَدَني سپرلي کښې د اِنفِرادي کوشش او د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه د چاپ شوې رسالے "ٹی وی کی تباہ کاریاں" د اورولو د بَرَکت بيان دے، مونږ ټولو ته پکار دي چې موقع په موقع د اِنفِرادي کوشش په ذريعه د نيکئ د دعوت ترکيب جوړوو، يقيناً د اِنفِرادي کوشش په ذريعه د نيکئ دعوت ورکول زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواږه خواږه سُنَّت دي او په بيشميره اَحاديثِ مُبارَکه کښې د دې دليلونه موجود دي.

## مَدَني بيګ او تقسِيمِ رَسائل

بيان شوي مَدَني سپرلي کښې د "ٹی وی کی تباہ کاریاں" رِسالے ذِکر هم موجود دے چې کله قاري صاحِب خپل شاګِرد ته دا رِساله واورولہ نو هغه ته د توبه کولو سعادت نصيب شو، هغه لـمونځ ګُزاره جوړ شو او د دعوتِ اسلامي په دِيني ماحول کښې شامِل شو. د کومو اسلامي ورونړـو او خويندو نه چې کيدے شي نو يو "مَدَني بيګ" دې واخلي او په هغې کښې دې د خپل وَس مُناسِب د مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوې رسالے، د سُنَّتو ډکو بيانونو کيسټې وغيره کيږدي. خير ټوله ورځ نه، صرف د موقعې په لِحاظ سره دې هغه بيګ د ځان سره موجود ساتي او رسالے وغيره دې نورو ته په تحفه کښې ورکوي. د موقعې د مُناسَبَت په لِحاظ داسې هم کيدے شي چې بعضو خلقو ته دې ئې صرف د لوستلو د پاره ورکوي، چې کله ئې هغه اولولي او بيرته ئې ورکړي نو بله رساله دې ورکړي هم دغسې د کيسټو او د غټو کتابونو ترکيب هم کيدے شي. په داسې کولو تاسو ډير زيات ثوابونه ګټلے شئ. خو چې دا هر څه خاص ستاسو د خپل جيب نه وي د دې د پاره چنده مه کوئ. د دې نه علاوه د جَشنِ وِلادت په موقع يا د خپلو وفات شوو عزيزانو د ايصالِ ثواب د پاره هم په مُختَلِفو وختونو کښې د تقسيم رَسائل ترکيب جوړوئ. په درس او اجتماعاتو او مدني مشورو کښې او د ايصالِ ثواب په محفلونو کښې د مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه مَدَني رَسائل وغيره تقسيموئ او د نيکئ د دعوت عامولو ډير زيات ثواب ګټئ.

بانٹئے مَدَنی رسائل مَدَنی بیگ اپنایئے      اور حقدارِ ثوابِ آخرت بن جایئے

**د شِعر مفهوم:** ځان سره په مَدَني بيګ کښې مَدَني رِسالے ساتئ او هغه تقسيموئ او د آخِرت د ثواب حقدار جوړ شئ.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عذاب د نازيليدو سبَب

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي ترجَمے والا قرآنِ پاك ''كنزُ الايمان مع خزائنُ العِرفان'' صفحه 339، سيپاره 9 سُوْرَةُ الْاَنْفَال آيت نمبر 25 كښې اللّٰهُ رَبُّ العِباد ارشاد فرمائي:

وَ اتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَ اعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۵﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزالإيمان: او د هغې فِتنے نه اُويَريږئ چې هغه به په تاسو كښې يواځې ظالـمانو ته نه رسيږي [بلكه هر نيك او بد ته به رسي]، او پوهه شئ چې د الله عذاب ډير سخت دے.

صَدْرُالْاَفَاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَيِّد محمَّد نَعِيمُ الدّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت نه لاندې فرمائي: بلكه تاسو د دې نه اُو نه يَرِيږئ او د دې د اسبابو يعني منع شوو څيزونو نه مو ډډه اُونكړه او هغه فِتنه نازله شوه نو داسې به نه كيږي چې په هغه فِتنه كښې به خاص صرف ظالِمَان او بدكاره اخته كيږي بلكه هغه (فِتنه) به نيكو او بَدو ټولو ته رسي. حضرت سَيِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائيلي دي چې الله پاك مومِنانو ته حكم كړے دے چې هغوئي دې په خپل مينځ كښې څوك ممنوعاتو كولو ته نه پريږدي يعني د خپل وَس او اِختيار مُطابِق دې بَدئ منع كوي او ګناه كوونكے دې د ګناه نه منع كوي كه هغوئي داسې اُونكړي نو هغوئي ټول به په عذاب كښې اخته شي، خطاكار او غير خطاكار ټولو ته به عذاب رسي. (تفسيرِ طَبَری ج 6 ص 217 رقم 15923) په حديث شريف كښې دي، سَيِّدِعالَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: الله پاك د مخصوصو خلقو په عمل عذاب نه عام كوي ترڅو چې عام طور خلق داسې اُونكړي چې ممنوعات [يعني ګناهونه] په خپل مينځ كښې وِيني او د هغې نه د منع كولو د قدرت لرلو باوجود نه څوك د ګناه نه حِصارَوي او نه ئې ترينه منع كوي، او چې كله داسې اوشي نو الله پاك په عذاب كښې عام او خاص ټول اخته كوي. (شرحُ السُّنة للبَغوی ج7 ص 358 حديث 4050) د ''اَبُوداوُد'' په حديث كښې دي: كه يو كس په قوم كښې په نافرمانو كښې اخته وي او هغوئي باوجود د قُدرت لرلو هغه منع نه كړي نو الله پاك د مرګ نه مخكښې هغوئي په عذاب كښې اخته كوي. (ابوداؤد ج4 ص 164 حديث 4339) د دې نه معلومه

شوه چې کوم قوم نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر (يعني د بدو نه منع کول) پرېږدي او خلق د ګناهونو نه منع کوي هغوئي د دې فرض پرېښودو په وجه په عذاب کښې اخته کېږي.

## نيك كس هم په عذاب كښې

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په نن زمانه کښې د مسلمانانو يو ګڼ شمير په روحاني، بَدني، سماجي او معاشي وغيره قِسما قِسم پريشانو کښې اخته دے، چرې د نيکئ د دعوت د پرېښودو په وجه خو دا حال نه دے؟ تاسو پخپله پرهيزګاره او نيك سهي خو که نورو ته د نيکئ دعوت نه ورکوئ او د قدرت لرلو باوجود خوك د ګناهونو نه نه منع کوئ، عام مسلمانان بلکه د خپل کور کسان په ګناه کښې اخته وينئ او خفه کېږئ هم نه، نو دا حديثِ پاك بيا بيا اولولئ يا واورئ او خپل ځان د عذابِ اِلٰهي نه اُووَيَروئ او د نيکئ د دعوت د پاره ملا وتړئ، چنانچه د سرکارِ مَدینَهٔ مُنَوَّره صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډک فرمان دے: اللّٰه پاک حضرت جِبرِيل (عَلَيْهِ السَّلَام) ته حکم اوکړو: فلانکے ښار سره د هغې د اوسيدونکو زير و زَبر کړه [يعني په بل مخ واړوه]، حضرت جِبرِيل (عَلَيْهِ السَّلَام) عرض اوکړو: اے ربّ! په هغه خَلقو کښې ستا فلانکے نيك بنده هم دے چې هغه د سترګې د رَپ همره هم ستا نافرماني نه ده کړې. اللّٰه پاک اُوفرمائيل: اَقْلِبْهَا عَلَيْهِمْ فَاِنَّ وَجْهَهٗ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ يعني ښار په هغوئي نسکور کړه ځکه چې د هغه مخ زما د نافرمانو په ليدلو کله هم نه دے مُتَغَيَّر [يعني نه دے بدل] شوے [يعني زما په نافرمانو ليدلو کله هم نه دے خفه شوے]. (شُعَبُ الايمان ج6 ص97 حديث 7595)

## دَ مُعاشرتي بدو په وجه پريشانه کيدل د اِيمان تقاضه ده

د دې حديثِ پاك نه لاندې په مِراٰةُالْمَناجِيح کښې دي چې: د دې حديث شريف نه دا معلومه شوه. چې څنګه د اعمالِ صالحه (يعني نيکو) سره تَعَلُّق ساتل او د بَدو نه ډېډه کول ضروري دي دغسې د دِين و مِلَّت خلاف سازشونو او په مُسلمانانو باندې د ظُلم او زياتي او د معاشرتي خرابئ په وجه پريشانه کيدل هم د ايمان تقاضه ده. کوم خلق چې د اللّٰه پاک د رضا د حاصلولو د پاره د معاشرتي بدو د ختمولو کوشش نه کوي او د منع کولو طاقت که نه لري نو په هغې خفه کيږي هم نه نو د هغوئي تقوىٰ د هيڅ کار نه ده! لِهٰذا د خپلې اصلاح او د اللّٰه پاک په بندګئ کښې د مشغوليدو سره سره د مُلك و مِلَّت او د دُنيا د مسلمانانو د بدحالئ د ختمولو

او مُعاشره د غير شرعي کارونو نه د پاك کولو د پاره کوشش کول زمونږ د ټولو ذِمه واري ده. (مِراٰۃُالمَناجِیح ج6ص516)

## د نيکو خلقو د هلاك کيدو وجه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! څوك چې پخپله د نيکو حِرص لري ، پابندئ سره د جَمعې لمونځونه هم کوي، خو د ګيره خرووونکو، ماډرن [يعني غير شرعي فيشن کوونکو] دوستانو د مجلسونو نه د ډېره کولو په ځائے صرف د خوند اخستلو د پاره د هغوئي په مجلسونو کښې کښيني، د هغوئي په غير مُحتاطه او د ګناهونو نه ډکو خبرو اترو کښې اګرچې خاموشه اوسي خو په زړه کښې خوند ورکوي ولې چې ښکاره خبره ده که د ده نفس ته ئې مزه نه ورکولے نو د داسې خلقو سره به ئې ولې دوستي کوله! اوس چې کوم روايت وړاندې کيږي هغه د داسې خلقو د پاره د عِبرَت کوږه ده (يعني د نصيحت او د عِبرت چابك دے)، چنانچه منقول دي: **اللّٰه** پاك حضرت سَيِّدُنا **يُوشَع بِن نُون** عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي را وليږله چې ستا د قوم **يو لاك** کسان به په عذاب هلاك کيږي چې په هغي کښې **څلويښت زره** نيك دي او شپيته زره بد دي. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام عرض اوکړو: **يا رَبِّ کريم!** د بدکِردارو د هلاك کيدو وجه خو ښکاره ده خو نيك خلق ولې هلاك کيږي؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: "دا نيك خلق هم د هغه بدکرداره خلقو سره خوراك څښاك کوي، زما د نافرمانئ او د ګناهونو په ليدلو کله هم د دوئي په **مخونو** د ناګوارئ [يعني د بد ګڼلو] هيڅ اثر نه راځي." (شُعَبُ الایمان ج7ص53رقم 9428)

## په خپل زړه کښې دې ئې بَده اُوګڼي

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے مَكتَبَةُالْمَدِيْنَه چاپ شوي د 743 صفحو کتاب "**جنّت ميں لے جانے والے اعمال**" صفحه 595 کښې دي: د حضرتِ سَيِّدُنا ابُو سَعِيد خُدرِي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د حُضُورِ پاك، صاحِبِ لولاك صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرَت نه ډك فرمان دے: په تاسو کښې چې څوك څه بَدي اُووِيني نو هغه ته پکار دي چې بدي په خپل **لاس** بدله [يعني منع] کړي او څوك چې په لاس د بدلولو طاقت نه لري هغه ته پکار دي چې په خپله **ژبه** ئې بدله کړي او څوك چې په خپله **ژبه** هم د بدلَوَلو طاقت نه لري هغه ته پکار دي چې په خپل زړه


کنبې ئې بده اُوګڼي او دا د کمزور ترين ايمان نښه ده. (صحيح مُسلِم ص 44 حديث 49 ، سُنَن نَسائی ص 802 حديث5018)

## آيا مونږ په زړه کښې بد ګڼو؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـړو! د خپل ضمير نه تپوس اوکړئ چې که څوك مو په ګناه ليدلے وو او په لاس يا ژبه د منع کولو د طاقت نه لرلو په صورت کښې آيا تاسو په خپل زړه کښې بد ګڼلي وو؟ په کروړونو افسوس! د بچو د مور نه که ډوډئ پخول ناوخته شي، په اِنګولي کښې ترينه مالګه زياته شي، يا د چا څوئ اسکول ته لاړ نه شي نو ضرور ئې بده ګڼي خو که د کور والؤ هره ورځ پينځه وخته لـمونځونه قضا کيږي نو هيڅ بده ئې نه ګڼي، تر دې چې د هغوئې د پوهه کولو کوشش هم نه کوي، حالانـکه که ماشوم د لسو کالو شي او لـمونځ نه کوي نو په پلار واجِب دي چې په وهلو پرې [لـمونځ] کوي. ګني [پلار به] ګنهګار او د وور د عذاب حقدار وي. تاسو پخپله اووائے! آيا ستاسو داسې کول صحيح دي؟ مَثَلاً د محکوم [يعني د رُعب نه لاندې] اولاد ګناه که اُووِيني نو حاڪِم (يعني پلار دې) ئې په لاس بدله [يعني منع] کړي، عالِم دې ئې په ژبه بدله کړي، چا ته چې دا دواړه قُدرَتونه حاصل نه وي هغه دې ئې کم نه کم په زړه کښې خو بده اُوګڼي، خو اوس داسې ذِهن څوك لري! تاسو فِکر اوکړئ! مِيوزِك [يعني سندرې او سازونه] غرېږي، بيشکه تاسو د بندَوَلو قدرت نه لرئ خو آيا بدې دربانديې لګي؟ آيا دا کار تاسو بد ګڼئ؟ نه جي، ځکه چې په خپل موبائل کښې مو هم مَعَاذَالله "مِيوزيڪل ټيون" موجود دے! دوه کسان په کوټه کښې يو بل ته کنزلې کوي، بده دربانديې اُولګيده؟ نه جي، ولې؟ ځکه چې کله کله دې په خپله خُله هم مَعَاذَالله کنزلې راځي. فلانـکي دروغ اُووئيل، آيا په تا بد اُولګيدل؟ جي آو، ولې؟ ځکه چې زما ذاتي نقصان اوشو، باقي د الله پاک د رضا د پاره به په داسې چا څنګه بد اُولګي څوك چې پخپله خُله هم مَعَاذَالله دروغ وائي. دا مِثالونه صرف د احساس پيدا کولو د پاره دي، ګني د ډيرو حالت دا دے چې په خپل موبائل کښې ئې ميوزيڪل ټيون نه وي، د کنزلو او دروغو عادت ئې هم نه وي، بيا ئې هم په "زړه کښې د بد ګڼلو" خيال نه وي. که د رضائے اِلٰهي د پاره مو په حقيقي معنو کښې ګناه په زړه کښې د بَده ګڼلو سوچ پيدا شي او په ګناه مو د زړه خفه کيدلو عادت جوړ شي نو بيا به په مُعاشره کښې د يو بل د اِصلاح کولو دَوَر دَوره راشي ځکه چې مونږه بَدئ په زړه کښې واقعي بَدې ګڼل

شروع کړو نو بيا به خلق پوهه کول هم شروع کړو، او اِنْ شَآءَالله هر طرف ته به د سُنَّتو سپرلے راشي او د ”نيکئ دعوت“ به عام شي. **الله** پاک دې زمونږ په حال رحم اوکړي او مونږ ته دې عقلِ سليم راکړي چې مونږ هم ډير ډير د نيکئ دعوت ورکوونکي او د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عام کولو والا جوړ شو.

دراروانيءِ هفتے رسالہ




فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زره سبزي مندهي كراچيءَ
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com